واحد فقيري – واشنګټن ۲۰۱۲/۰۹/۲۴

# فلـم او مظاهـرې

د اسلام او په تېره بيا د حضرت محمد پر خلاف د « مسلمانانو معصوميت» په نامه فلم بې له شکه له توهين او غرضه ډک دی. البته، هر دين او عقيدې ته سپکاوی يو غير اخلاقي او بې ادبه عمل دی چې په اصل کې د فاعل فکري سطح او انحراف ښيي. خو ددغه بازاري او پوچ فلم په مقابل کې د ځينو مسلمانانو عکس العمل هم د دفاع وړ ندی. د مصر د ستر مفتي علي ګوما په قول: حضرت رسول په خپل ژوند کې هر راز سپکاوی او فزيکي حملې ګاللې، خو د انتقام لپاره يې اقدام نه کاوه. په اسلامي نړۍ کې، تر اوسه پورې ۴۷ تنه د اعتراضونو په جريان کې مړه سوي دي، او ددې امکان سته چې نور هم مړه سي. يوازې په پاکستان کې د جمعې په ورځ قريب شل تنه وژل سوي دي.

په غرب او امريکا کې ددې فلم د جوړونکو په شان متعصب او اسلامي ضد افراد او ګروپونه سته چې مختلفي شيطاني او پارونکي اجنداوې لري. په بل عبارت، دا د ۲۱ پېړۍ هغه سرتمبه مذهبي جنګيالي دي چې د نړيوالو مناسباتو، ژوندانه، او د خلقت نهايي غايه او هدف مذهبي اخ و ډب او د تمدنونو ټکر ګڼي. د فلوريډا ايالت برېتور او شيطاني پادري ټيري جونز له همدې ټل څخه دی، او په اسلامي نړۍ کې يې د اسامه بن لادن په شان نور افراطي مسلمانان سيال او فوتوکاپي دي.

واقعيت دا دی چې دا راز افراطي افراد او ډلې په امريکا او غرب کې رټل سوي، بې واکه، او بې اهميته دي. هغوي د جامعې په حاشيو کې پخپل مذهبي ليونتوب کې راګير دي، او د فلمونو، کارتونونو، او د قران مجيد د سوځولو له لارې فرقوي او سکتوري مرګ ژوبلې ته لمن وهي. دا راز حاشيوي ډلې او افراد د انټرنټ او سوشل ميډيا له برکته خپل د کرکې او تعصب کرغېړن ږغ له زرغونې فلوريډا او ښايستې کلفورنيا له ساحلونو څخه د هندوکش او اباسين تر پراخو لمنو پورې د سترګو په رپ کې رسوي.

مګر په اسلامي نړۍ کې، د داسې چيپاټو په مقابل کې عکس العمل د عقل او منطق سره سر نه خوري، او نتيجه يې ځان او خپل ملک ته صدمه رسول دي. ګومان کوم چې په اسلام کې هم ځانته ته زيان رسول غندل سوي دي. ځانته نقصان رسول له عقلي استدلال سره په ټکر کې وي، او څرنګه چې بنيادم په خلقت کې منطقي او عقلي پيدا سوی دی نو هر عاقل او بالغ ځان له تاوان او صدمې څخه ژغوري، ځکه پدې عمل دښمن لا خوشحاله کېږي.

بلخوا، ايا د يوه پوچ او بازاري فلم پر ضد مظاهرې ضروري دي، که د ظلم، اختلاس، او ناروا په مقابل کې؟ په بل عبارت، ولې افغان محصل – د کابل، هرات، خوست،او نورو پوهنتونو محصلين- په وطن کې د بې لجامه رشوت، اختلاس، او د بيت المال د لوټ او تالان پر خلاف مظاهره نه کوي؟ ولې د ښه حکومتوالی د راوستلو، د حساب او کتاب، او د سولې د ټينګولو په غرض اعتراض نه کوي؟ ولې د پارلمان پرخلاف، چې يو وزير يو ځل سلب اعتماد کوي او بيا هغه وزير په يوه مياشت کې د دفاع وزارت ته منظور وي، خپل ږغ نه پورته کوي؟ څرنګه کېدای سي چې يو وزير دې په يوه وزارت کې د رشوت، خويشخورۍ، او بې کفايتۍ په الزام سلب اعتماد سي، خو بيا همدا فاسد پارلمان په يوه مياشت کې ۱۸۰ درجې څرخ خوري او خپله پخوانۍ رايه پخپله باطله وي؟

خو که په غرب کې – په تېره بيا په امريکا کې- يو څو تنه بد هنره، لارورکي، او مذهبي متعصبين سره يو ځای سي، او يو توهينونکی فلم جوړ کړي، افغان محصل کوڅو او بازارونو ته په اعتراض راوځي. سوال دا دی چې د افغانانو د ژوندانه او عزت لپاره څه شی زيات اهميت لري. په کور کې عدالت، ثبات، او ازادي راوستل، او که په خارج کې د يوه پوچ فلم پر خلاف مظاهره کول؟


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دا ډول فلمونه او کارتونونه به د مذهبي متعصبينو او القاعدې لپاره يو طلايي چانس وي، خو د دښمن دا راز ناځوان عمل بايد يو محصل درک کړي او په مقابل کي يې مناسب عکس العمل وښيي. د کندهار مشرانو پدې ارتباط له پوره درايت او بصيرت څخه کار واخيست، هغوی پخپله درنه او سولييزه غونډه کې دا عمل په کلکه وغانده، او له شريرو فلم جوړونکو څخه يې خپله کرکه په مهذبه توګه اعلان کړه.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ